Social Sceince AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د ادبیاتو ماهیت  اوارزښت ته کتنه

حمیدالله حمیدي[*1]
پښتو څانګه،ښوونې او روزنې  پوهنځی، هلمند پوهنتون
دمسؤل آیمیل آدرس. hamidullahhamidi887@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۰٦/۰۹ منل سوې:۱۴۰۳/۰۸/۰۸ خپره سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-1-11 مخونه (۱۲۹-۱۴۰)

## لنډیز

دا ادب او ادبیات د ټولنیز ژوند هنداره ګڼل کېږي، ادبیات د ټولنیز ژوند د واقعیتونو هنري انګازه (انعکاس) ده، چې د ژبې په وسیله انځوریږي، ځکه ادب یوې پیښې ته هنري ترسیم او انعکاس په شعوري ډول ورکوي، انسان په خپل ځان کې عواطف، ترحم او زړ خوږي لري، ادبیات دي چې انساني احساسات په لړزه  راولي، عملي تحرک ته یې هڅوي.  په عام مفهوم ادب د ټولنیزو ایډیالونو د ترسیم او انځورونې ځانګړې فورم دی، چې د تاریخي دریځ، مهال او چاپېریال له شرایطو سره سم وده او پراختیا مومي. یعني ادب د ښو الفاظو په وسیله د خپلو احساساتو او ادراکاتو یا د زړه د خبرو ښکاره کول او د اوریدونکي په ذهن کې کښېنول دي، په پښتو ژبه کې د ادب کلمه په عامه توګه د ژبورې په مانا راغلې ده؛ چې ټول علوم او فنون په ژبې سره بیانېږي. ادبیات د انساني ژوند مختلف اړخونه ترسیموي،لکه : فکر،خیال، خوښي ، اندیښنې ، انګېرنې، ننګېرنې ، کیسې، اسطورې، په ژوند پورې اړوند داستانونه او نور... په خپله ارته لمن کې را نغاړي. د ادب موضوع انسان دی، ځکه وایي: ( په شعر او ادب کې یوازې بشر ولټوئ )که له یوې خوا ادب واقعیتونه انځوروي؛ له واقعیت څخه موخه داده، چې د پېښې مواد له ژوند، واقعیت او حقیقت څخه اخلي؛ بلکې د انساني ژوند له چاپېریال سره اړه لري. ځکه چې د لمر رڼا ظاهرا سپینه یو رنګ معلومېږي، مګر په حقیقت کې اووه رنګه ده؛ نو ادب هم خپلې پلوشې همداسې ښیې. په لیکنه او وینا کې که د ادب مالګه ګډه شي، هغه په هر چا اثر کوي، هر څوک یې خوښوي ، ادبي قیمت تر علمي او فلسفي قیمت  لوړدی؛ د پایلې په توګه ویلای شو، چې ادب د ژوند مالګه ده ؛ د الفت صاحب په وینا، په شعر او ادب انساني احساسات او عواطف څرګندېږي او روسي ادبپوه ادبیات د ژوند درسي کتاب بولي، لنډه دا چې د یو ملت ژبه، کلتوراو اخلاق د شعر او ادب په وسیله ساتل کېږي.

**کلیدي کلمي :**ادب، ژوند، هنر، ارزښت او ماهیت

## سریزه

ادب رښتیا د ژوند هنداره ده، د ژوند د پیښو په باب لیکوال داسې مثال لري. لکه د مشاهداتي منظرو په باب رسام او عکاس چې یې لري، رسام یوازې هغه څه عکاسي کوي، چې د دوی او نندارہ کوونکو د پاملرنې وړ وي، د هر څه ترسیمول نه ممکن او نه په  زړه پورې دي.

دغه څېړنیزه مقاله ( د ادبیاتو ماهیت او ارزښت ته کتنه ) تر سرلیک لاندې په ټولنیز ژوند کې د ادب په ماهیت او ارزښت را ټوله ده، د څېړنې د کتابتوني ډول ترڅنګ له تشریحي او تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوي، په دې مقاله کې د ادب په ماهیت او ارزښت، موخه، صنعت او انساني تمدن کې یې د ونډې په اړه بحث شوی دی.
ادب له ژوند سره مستقیمه اړیکه لري، د ادب موضوع انسان دی، انساني او اخلاقي اتقاء یې موخه ده، ټولنیزي هڅونې، راویښول او متوجه کول یې دنده ده، د ټولنې ناخوالې له ټولنې اخلي. همدا ټولنیز واقعیتونه په هنري او ښکلاییز ډول بیرته ټولنې ته منعکسوي، له ټولنې خام مواد اخلي، په شعوري ډول د ژبې په لطافت د الفاظو په رنګا رنګي د بلاغي علومو په مرسته کلام او وینا په زړه پوري کوي او خپله مفکوره په داسي ډول چې د خلګو زړونو ته یې خبره ورسېږي، وړاندې کوي.
د ادب نتیجه د ژبې د پرمختګ ترڅنګ، ټولنیزه ویښتابه رامنځ ته کوي، د انساني تحرک سبب کېږي، د یوناني او اروپایي ټولنو د تمدن لومړني بنسټونه د ادب په ارابو کېښودل شول، څنګه چې د لمر رڼا ظاهرا سپینه یو رنګ معلومیږي، مګر په حقیقت کې اووه رنګه دی؛ نو ادب هم خپلې پلوشې همداسې ښیي، انساني اخلاقي اتقاء ورپوري تړلې ده.
اوس که یو کس په لاره ځي او یو ماشوم په داسي حال کې وینې، پښې لوڅې، ببرسر، شلېدلې جامې یې په تن ګوري؛ په لاشعوري ډول یې زړه ورباندې درد کوي، مګر ادبیات بیا شعوري پدېده ده، لیکوال او شاعر یوه پېښه په شعوري ډول رااخلي او پېښه د هنریت په ادبي رنګ رنګوي او لوستونکو ته یې وړاندې کوي، لکه، یو نابینا کس سوال کاوه، په خپله لیک دړه یې لیکلي و( زه ړوند یم له ما سره مرسته وکړئ.) وروسته یو ادیب په دې لاره تېرېږي، ورته یې پام شو، د دې لیک دړې په بل طرف یې همدا پېښه ادبي اوهنري کړه، ویې لیکل( پسرلی دی، مګر زه یې په سترګو نه وینم) دې جملې د لوستونکو په عواطفو اغېز کاوه، خلګو چې دا جمله لېدله د هغوی عواطف یې تحریکول له هغه نابینا سره یې ډېره مرسته وکړه.

## عمومیات

ادب او ادبیات د نورو ټولنیزو پدیدو، شعوري ډولونو او ارزښتونو غوندې د ټولنیزې بشپړتیا له بهیر سره جوخت وده او پراختیا مومي؛ تاریخي ، جغرافیایي ، سیاسي ، کلتوري او اقتصادي عوامل پرې ځکه اغېز ښندې چې د ټولنې هنداره ګڼل کېږي. هره ژبه او ادبیات له بشري ژوند سره نېغ په نېغه اړیکه لري، له وګړو سره د هغوی د ژوندانه په چارو کې مرستندوی او دهیلو څرګندوی دی، همدغه ادبیات دي، چې د وګړو او ویونکو ذوق خړوبوي او په حقیقت کې د خپلې ټولنې

ډېر ښه انځور او کښيده وړاندي کوي، ژوند مخ په وده دی. ادب او ادبيات هم همدغه د مختګ بهېر پالي (هاشمي، ۱۳۹۳، ص ۲۲).

ژبه او ادب سره تړلې دي ، يو له بله بېلېدای نه شي، د ادب پېژند په لاندې ډول وړاندې کوو:

**پېژند**: د ادب لغوي مانا ( روزنه ، ښه چال چلند ، ښه کړه وړه ،درناوی ،نمانځنه ، ځيرکي او د حد اوبريد ساتل دي. ادب اوادبيات د ټولنيز ژوند د واقعيتونو هنري انګازه (انعکاس ) ده، چې د ژبې په وسيله انځورېږي (هاشمي، ۱۳۹۳،ص ۱۹). ادب په عام مفهوم سره د ټولنيزو ايډيالونو د ترسيم او انځورونې ځانګړی فورم دی، چې د تاريخي دريځ ، مهال او چاپيريال له شرايطو سره سم وده او پراختيا مومي(شاه ولي،۱۳۹۰،ص ۱۳). ادب په خاص مفهوم سره د يوې ژبې د هنري اثارو مدونه (ليکنۍ ) او نامدونه (ګړنۍ ) مجموعه ادب ده. پوهاند عبدالحی حبيبي صاحب د پښتو ادبياتو تاريخ په لومړي ټوک کې ليکي :

ادب په عربي ژبه کې ښيګنې او کياست، د ژبې او زړه ظرافت او ذکاوت ته وايي چې ظرافت او حسن تناول يې لنډ لغوي تعريف دی .

**او په اصطلاح کې ادب په دې ډول تعريف کيږي:** (( ادب هغه پوهنه يا هغه رياضت دی چې سړی د هغې په وسيله يو فضيلت او يوه ښيګڼه له ښيګڼو څخه مومي يا له تيروتلو او خطاوو څخه ژغورل کېږي. خلاصه دا ده، ادب د لغت او اصطلاح له مخې ښېګڼه ده ،چې سړی له خطاء او بدو څخه ساتي او په خوی او خلق پوري اړه لري چې بيان يې د اخلاقو د علم کاردی او دلته په دې بحث اړه نه لري.))(حبيبي ، ۱۳۸۴،ص ۷).

کانديد اکاډميسن محمد صديق روهي د ادب پيژند په دې ډول کړی دی:

ادب ژبنی هنر دی چې واقعيتونه په انځورونو کې وړاندې کوي دانځور (تصوير يا ايماژ ) څخه مقصد دادی چې ادب واقعيتونه کټ مټ او په مستقيمه توګه نه بيانوي بلکې د ادبي اثر دليکونکي له خوا په ښکلي او احساس پارونکي شکل وړاندې کېږي. يا په بله ژبه نوښتګر (شاعر ـ ليکوال ) له واقعيت څخه خپله انطباع او برداشت په عاطفي بڼه انځوروي، د ادب دغه ځانګړنه د تخييل په مرسته کېږي؛ تصوير جوړونه د تخييل له قدرت سره مستقيمه اړيکه لري(روهي،۱۳۸۴،ص ۲۷). د ادبي اثر ترټولو عمده خاصيت د احساس انتقال دی، که يو ادبي اثر احساس ونه ليږدوي او د اورېدونکي يا لوستونکي په عواطفو اغېزه ونه کړي؛ نو ادبي اثر يې بللای نه شو .

د ادبپوهنې اثر ليکوال اکاډميسن هاشمي صاحب د ادب پېژندنه په دې ډول ذکر کړې ده :

د ادب لغوي مانا ( عزت ، خاطر ، لحاظ ، علم ، پوهه ، زده کړه ا و ځيرکي ) ده، په اصطلاح کې هغه پوهنه او يا هغه رياضت دی، چې سړی د هغې په وسيله يو فضيلت او يوه ښيګڼه له ښيګڼو

څخه مومي یا له تېروتلو او خطاوو څخه ژغورل کېږي. د ادب علم په اوله مانا د اخلاقو له علم څخه عبارت دی او په دوهمه مانا د ادب علم هغه پوهنه ده ، چې د ویلو ،لیکلو او ښې وینا ډولونه راښیي اود نظم او نثر حالت ښه والی ، بدوالی او نوري مرتبې بیانوي، په دې لحاظ هغه ټولې پوهنې چې سږي ته دوینا ډولونه، په ښه طریقه ویل او لوستل ورزده کوي هغه د ادب علم بلل کېږي .

د ژبني بیان دوه لارې دي، یا به نظم وي او یا به نثروي. د ټولو علومو بیان ، تاریخ لیکل او د پوهول اوراپوهول په دې دوو ښو باندې کېږي؛ نو په دې دواړو کې مهارت پیداکول او په دې وسیله خپل مطالب او خیالات بیانول او ښکاره کول د ادب غایه او غرض ګڼل کیږي ، د جدید ادب په مفهوم انتقادي روح لرل هم پکې داخل دي.

د سنټ اګستین په وینا ((د ادب په باره کې که زما نه پوښتنه ونه کړې پرې پوهیږم او که زما نه پوښتنه کوي، نو بیا پرې نه پوهیږم.))

ارسطو وایي: ( په ادب کې منطقي رښتیا خو نه وي، ولې ادبي صداقت یا ادبي رښتیا پکې موجود وي) خپله د وینا عقلي منطق دوه ډوله دي، یو علمي منطق او بل ادبي منطق، موږ ډېر شیان په علمي منطق نه بلکې په ادبي منطق تول کوو، چې د ژوند ارابه ورباندې ښه مخ په وړاندې ځي.

فرانسوي ګوساین وایي ( چې موږ د طبعیت ټولې ښکلاوې او ښه مناظر وینو، کوم فکر او خیال چې مونږ په ښو الفاظو او جملو سره افاده کوو؛ ادب یې بللی شو) (هاشمي، ۱۳۹۳،ص۲۳).

ادب تراوسه پورې یو منلی پېژند د خپلې معنوي ژورتیا او پراختیا له کبله نه دی وړاندې کړی ، د لویدیځ یوه ادبپوه اډوان ګرینلا د یوې ژبې ټول چاپ اثار ادبیات وبلل، حال دا چې دا یوه سمه او پر ځای خبره نه ده. د ادبیاتو ډلبندي : ادبیات له لویه سره موږ په دوه ډوله ډلبندي کولای شو:

یو د بڼې او فورم له مخې

دویم د محتوی او منځپانګې له مخې.

لومړی ادبیات د بڼې له مخې دوه ډوله دي :

لومړی نظم

دویم نثر

دویم ادبیات د منځپانګې له مخې هم دوه ډوله دي :

لومړی پنځیز ادبیات

دویم ځېړنیز ادبیات نومیږي.

ادب د ښو الفاظو په وسیله د خپلو احساساتو او ادراکاتو یا د زړه د خبرو ښکاره کول او د اورېدونکي په ذهن کې کښېنول دي، په پښتو ژبه کې د ادب کلمه په عامه توګه د ژبورې په مانا

راغلي ده؛ چې ټول علوم او فنون په دې ژبې سره بيانيږي او پوهول کيږي (روهي،۱۳۸٦،ص ۲۴). ادبيات د ژوند مختلف اړخونه ترسيموي، د انساني ژوند ،فکر،خيال، خوښي، انديښنې، انګيرنې، ننګيرني، قصې، اسطورې او په ژوند پوري اړوند داستانونه؛ په خپله ارته لمن کې را نغاړي. د ادبپوهني بنسټونه ليکوال پوهنوال رفيق صاحب ادبيات د محتوی له مخې په څلورو برخوويشي: لومړی حماسي ادبيات ، دويم غنايي ادبيات ، دريم تعليمي ادبيات او څلورم نمايشي ادبيات (رفيق،۱۳۹۹،ص۲۵).

**د ادب موضوع**

د ادب موضوع انسان دی، د الفت صاحب په خبره ( په شعر او ادب کې يوازې بشر ولټوئ ) ځکه که له يوې خوا ادب واقعيتونه انځوروي؛ له واقعيت څخه موخه دادی، چې د پيښې مواد له ژوند او واقعيت څخه اخيستل کيږي؛ بلکې د انسان د ژوند له چاپيريال سره اړه لري (الفت،۱۳۹۳،ص ۱۴). واقعيت په دې مانا هم نه دی، چې کټ مټ دې خارجي وجود ولري؛ مثلا په يوناني اسطورو کې انسان داسي ښودل شوی دی، چې سريې د انسان او تنه يې د زمري دی؛ په ادب کې دا هم واقعيت دی، ځکه دواړه شته. ليکن د تخيل په مرسته ترکيب شوي دي، ځکه په ادبياتو کې اسطورې ، افسانې او له مبالغې ډک شعرونه هم شته، نو که ادب واقعيت نه بيانوي ګټه يې څه دی؟ د رياليزم پلويان ټول وايي: چې ادب بايد د ټولنيز ژوند هنداره وي، ادب د انساني روح روزونکی دی. څنګه چې د لمر رڼا ظاهرا سپينه يو رنګ معلوميږي، مګر په حقيقت کې اووه رنګه دی؛ نو ادب هم خپلې پلوشې همداسې ښيي. ميتهو ارنلد وايي: ( ادب د انسان د ژوندانه تفسير دی.) يعني ادب د بشري ټولني په روزنه کې خپله وظيفه سرته رسوي (حبيبي،۱۳۸۴،ص۸).

**د ادب غايه او غرض**

ادب د ټولنيز ژوند هنداره ده، ادب که مستقيما نصيحت نه کوي؛ خو يوه پيښه په دا ډول الفاظو کې رانغاړي، چې اوريدونکی او لوستونکی د هغې د اوريدلو يا لوستلو په اثر له شريف انسان سره مينه پيدا کړي او له پست انسان نه کرکه . ادب د ساينس په شان مستقيم واقعيتونه نه بيانوي، خو د يو شعر يا داستان له لوستلو وروسته د شخص په سلوك او د تفکر په ډول کې مثبت تغير رامنځ ته کيږي. د مثال په توګه که موږ له يوې فرقې څخه کرکه لرو، نو که کله د هغوی په باره کې موږ يو داستان لولو؛ نو يو حقيقت ته رسيږو، چې هغوی هم زموږ په شان انسانان دي، ښه او بد په هر چا کې شته. ساينس او تکنالوژي موږ ته د ژوند وسايل برابروي مګر ادبيات په ژوند کې خوند ، ښکلا او سپيڅلتيا پيدا کوي او معنوياتو ته خدمت کوي، ادب ژوند ښکلی کوي او په انسانانو کې همدردي پيداکوي (ګورکي، ۱۳۸۸،ص ۴٦).

د ادبیاتو د هدف او دندې په برخه کې بېلا بېلې نظریې وړاندې شوې دي. زیاتره یې د سیاسي فلسفې سره پیوستون لري؛ د نمونې په توګه ځیني وایي: ادبیات باید متعهد وي، د زیارایستونکو دګټو ملاتړ وکړي اود استعمار سره مبارزه پکې انعکاس وموميي. ځیني نوربیا وایي: ادبیات باید د انسان ښکلاییز ذوق تسکین کړي، سرکښ غرایز تعمیري هدفونو ته متوجه کړي؛ شډل ذوقونه تربیه کړي، د غمونو او اندیښنو په وخت کې انسان ته تسلي ورکړي، د مصیبت ځپلو لپاره پناګاه شي او د شتمنو لپاره د تفنن یوه سپیځلي وسیله وګرځي. د ادب په صفت انسان هغه وخت ستایل کیږي، چې په معنوي لحاظ یې کره وړه مقبول وي؛ د ښو ادابو او خصلتونو خاوند او بشري حسنه صفات یې بشپړ شي، په ژبه کې ادب همدغه شان دی، ادبیات د خلکو په ذهني او روحیاتي نړۍ باندې زښته ډېره اغېزه کوي؛ د تفکر طرز او احساس یې روزي ، څومره چې لیکوال د خپل چاپیریال او خپلې ټولنې د ژوند په رمزونو پوه وي، هماغومره دده د اثارو لوستونکې له دغو رمزونو څخه پرده پورته کوي اود ټولنې ښه او بد درک کوي ( الفت، ۱۳۹۳،ص۱۲).

روسي ادبپوه چیر نیشفیسکي وایي: هنر عموما او ادب خصوصا ( د ژوند درسي کتاب ) په نوم یاد کړی دی. ادب دهنر مهمه څانګه ده، نو دهد ف په باره کې دوه نظریې منځ ته راغلې، ادب د ادب لپاره؟ او ادب د ژوند لپاره ؟ لکه فورمولستانو چې ادب دادب لپاره نظریې پلوي کوي، خو طبعیت یوازې هغه چا ته ښکلی وي؛ چې د رسام په نظر ورته وګوري. که هرڅومره ادبي اثار له انتیک ادب څخه ترمعاصرادب پورې د نړۍ د ټولو لیکوالو او رسامانو اثار مطالعه کړو. پوهیږو، چې ادب همېشه اجتماعي مستقیمې اوغیرمستقیمې ایډیالوژۍ او ارزښتونه درلودل او لري یې. په یوه ادبي اثر کې د فورم د ښکلا او وضاحت سره د مضمون او ایډیا ګډون ملګری دی اود اجتماعي ایډیا او مضمون سره یې د فورم وضاحت او ښکلا لازمي ده.

**د ادب ارزښت**

الفت صاحب وایې، د انسان په وجود کې دوه شیه ډېر عزیز معلومیږي، یوه ته زړه او بل ته دماغ وایي. له دماغ نه علم او فلسفه پیدا شوه او له زړه نه شعراو ادب. انسان که غواړې، چې له حیوانیت نه لېرې وي، باید دغه عواطف ښه وروزي، د عواطفو روزل د شعراو ادب کار دی، هغه عواطف او احساسات چې د شاعر اولیکوال له زړه الفاظو ته را نقل شي شعر او ادب ترې جوړ شي او په زړونو اثر کوي. هرهغه څیز چې له زړه وزیږي اوپه زړونواثروغورځوي، هغه معمولي او عادي څیزنه دی؛ د یو ملت ژبه ،کلتوراو اخلاق په شعراو ادب ساتل کیږي، هر څومره چې د یوملت شعر او ادب عالي وي هغومره یې اخلاق ، نظر او روحیات لوړوي، شعر او ادب د بشرعلایق له دین سره ټینګوي، کوم ملت چې شاعرنه لري، هغه زړه نه لري ، سترګې نه لري؛ عواطف نه لري،

کوم قدر چې په انسان کې زړه لري، په جامعه کې شعر او ادب، په شعر اوادب کې یوازي بشر ولټوئ ( الفت، ۱۳۹۳،ص۴۹). ادبیاتو د بشري ټولنو په سباوون کې ونډه اخیستې، همېشه رښتینی هنر د انسان مرستندوی دی، ژوند ښکلی کوي، ذوق یې روزي، عواطف یې راویښوي، د ده وجدان ته د ښېګڼې په لور بلنه ورکوي، د ژوند له واقعیتونو او له باطني ژورتیاوو سره یې اشنا کوي، د ذهن په فضا کې یې د مبارزې احساسات په خپوراولي؛ د ټولنې په ښېرازۍ او سمسورتیا کې یې تعمیري کارته هڅوي. ترڅو د بشپړټولنیزعدالت د خپرېدو زمینه برابره شي. د منطق او مثال له لارې په روښانه راتلونکي باندې باورټینګ شي، له ادبیاتو څخه د سیاسي، اخلاقي او داسي نورو مفکورو د عرادې په توګه کار اخیستل کېږي. شعر او ادب د ځوانانو په ځلېدلو کې ستره ونډه اخیستې ده، ادب د ټولنیز فساد او ناانډولیو په برخه کې کله په ښکاره او کله په رمزي توګه مبارزه کوي؛ لیکوال او ادیب باید ټولنیزې ناروغۍ ښې تشخیص کړي، دشعر کمال دادی، چې حکمت او لذت دواړه پکې واغږل شي، شعر او ادب د زړه غږ دی، د زړه غږ د منطق له غږ څخه ډېر قوي وي.

## د ادب جوړښت

په یوه ادبي کلام او شعر کې دوه ډوله ښکلیتوب وینو، چې یو د ادب په معنوي او حقیقي صورت کې ځای لري، بل یې په لباس او زیور کې، دا دوه جماله په ادب کې پراته دي. که یوازي په رنګینو الفاظو او د کلام په اقسامو لوبې کول ادب وبولې، دا ناسمه ده. د ادب بناء د معنوي اساس په لحاظ په نورو شیانو ولاړه ده؛ چې عواطف ، احساسات ، خیال او تمثیل یې بولي .حقیقي ادب اوس د پوهانو په نظر بل شی دی اصلي توپیر د پخواني او اوسني ادب دا نه دی، چې صنعت او ښکلا په دواړو کې نشته، ولې توپیردادی: هغه څه چې پخوا غایه وه، اوس واسطه ګڼل کیږي. ادبي ښه اثر ته لازمه ده چې د عصر حقایق منعکس کړي، نیمګړتیاوو ته یې ګوته ونیسي او پرابلمونو ته یې د حل لارې پیدا کړي او که نه هغه ښه اثر نه ګڼل کېږي. پلیخانوف لیکي(( هنر او ادب باید هغه څه ترسیم او تجسیم کړي د کوم سره چې اجتماعي انسان علاقه لري او نااراموي یې))( شاه ولي، ۱۳۹۰،ص ۴۷). د لیکوالۍ یو شرط هم همدا دی، چې هغه فکرد داسي الفاظو او عباراتو په قالب کې واچول شي، چې اورېدونکي او لوستونکي ولړزوي؛ پاملرنه یې جلب کړي، د همدردۍ او خوند اخیستلو حس یې راوپاریږي.

## ادب صنعت دی

د ژوند د پیښو په باب لیکوال داسي مثال لري. لکه د مشاهداتو او منظرو په باب رسام او عکاس، رسام یوازي هغه څه عکاسي کوي چې ددوی اود ننداره کوونکیو د پاملرنې وړ وي، د هر څه ترسیم کول نه ممکن او نه په زړه پوري دي. ځیني داسي پیښې وي، چې د توجه وړ وي. ریالیست

لیکوال همدغه ډول عکاس دی، پیښې راټولوي؛ ربط ورکوي ،چې دې کار ته ادبي صنعت پنځونه او ایجاد وایې . د انسانانو افکار د پیښو په درک کې یو شان رسا نه دي، بلکې ډېر ځله واقعات د ځینو انسانانو له خوا په منحرف ډول درک کیږي او بیا په عباراتو اوالفاظو کې د هغو ځایول د یوه منحرف اثر د منځ ته راتلو سبب کېږي؛ دلته موږ دلیکوال په داسي یا هماغسي اثر څه نه لیکو، اما دومره باید وویل شي، د لیکوال دغه صنعت هغه وخت ډېر با ارزښته وي؛ چې د ده د خپل ژوند په تجربو ولاړ وي، ځکه چې په دې صورت کې یو باوري او رښتیاوو ته ورته اثر جوړېدای شي (شینواری، ۱۳۹۳،ص ۸۲).

**د ادب ټولنیز اغېز**

بدیعي ادب د هنر یو ډول دی، چې د نوي ژوند په جوړولو کې فعاله ونډه اخلي، پیاوړې لیکوال د ژوند ښه یا بد اړخونه لکه، یو ماهر رسام په داسي څېرو او قیافو کې وړاندې کوي، چې له یوې خوا لوستونکي د ژوند ژورو ته ور ننه باسي او له بلې خوا د هغه په باب د ده احساس متاثر او روزي. له دې کبله په ادب کې د انسان د روزنې او معرفت لویه مانا ځای شوې ده، ځکه چې رنیشفسکي ادب د ژوند د درسي کتاب په نامه یادوي، ادبي اثار نه یوازې موږ ته د ژوند په باب پوښتنو ته ځوابونه راکوي؛ بلکه د ژوند په باب زموږ تجربې زیاتوي، موږ د واقعیتونو سره له نژدې اشنا کوي (روهي ،۱۳۸٦،ص ٥٨). لیکوال چې څومره د ژوند ژور اړخونه را وسپړي او څومره د واقعاتو درک او افاده کولای شي هماغومره یي اثار اغېزناك او د روزنې لپاره باارزښته وي، هنر په مجموعي ډول د اجتماعي درك او فهم بدیعي فورم دی، ادب دهنر داسي څانگه ده ؛چې د ژوند بدیعي اړخونه له هر څه زیات پکې منعکس دي، ادب د اجتماعي روحیې هنداره ده، که طب د یو ولس د روغتیا لپاره کارکوي که معمار په یو قام کې د مېنو او ودانیو د جوړولو لپاره خدمت کوي ، مترقي ادب د ولس د کلتور بنسټ ایښودونکی، د اخلاقو سموونکي او هنداره ، په ولس کې د معقول نهضت لارښوونکی او د نامعقولو سره د مبارزې اغېزناکه وسیله ده. بې ځایه نه ده که ادب ته د انساني لویې ټولنې د تاریخ نوم څوك ورکړي، لوستونکي کولای شي د یوه لیکوال په اثارو کې د هغه وخت اخلاق ، دود او کلتور ، مشکلات او دهغوی د حل لار، تفکر او د وگړو څېرې داسي وگورې لکه چې ورسره همعصره دي. څومره چې د لیکوال ترسیم د واقعیت په بنا وي، هغومره دلیکوال اثار ژوندي اوپناه نامنونکي دي او لوستونکی هروخت ورڅخه الهام او درس اخیستلی شي؛ د بلزاك په وینا، لیکوال د ټولنې ښوونکی او معلم دی) (شینواری، ۱۳۹۳،ص ۹۷).

**په ژوند د شعر او ادب اغېزه**

که ژوند او حیات ته ښه ځیر شو او د انسانانو کامیابي اوناکامي په نظر کې ونیسو او ددې کامیابیو او ناکامیو عوامل وپلټو نو موږ ته به دا معلومه شي، چې ادب او ادبي رجال په دنیا کې موفق دي؛ ځکه ژوند د ادب په ارابو روان دی. د مقبولو او منفورو اشخاصو توپیرپه دې کې دی، چې عمل، کردار او فکر کي به یي کم توپیروي ولي په ادبي لحاظ به ډېر تفاوت لري ،ځکه ژوندون د اکثرو په اعتبار ادبي دی نه عقلاني؛ نو ادب د ژوند هنداره ده، حتما به کله اخلاقي کېږي او کله به عشقي رنګ پیدا کوي؛ یو وخت به پکې د ننګ او غیرت انګازې خپرې وي (الفت، ۱۳۹۳، ص ۲۲).

د علم او منطق څخه د ادب ځانګړنه داده، چې د اعتراض وړ نه دی لکه خوشحال خان چې وایي:

که په نظم کې کارګه او ټپوس راوړې                هو د زړونو په ښکار ګرځي لکه باز.

(ختک،۱۳۹۳، ص ۲۸۷)

په کومو خبرو کې که د ادب مالګه ګډه شي، هغه به په هر چا اثر کوي او هر څوک به یي خوښوي ، ادبي قیمت تر علمي او فلسفي قیمت لوړدی؛ چې ما دلته د الفت صاحب له ادبي بحثونه نومي کتاب څخه دوه کیسي راوړي دي:

((له کوم با ادبه سړي څه چا پوښتنه وکړه ، چې ته لوی یې که پلانکی ؟ ده په ځواب کې وویل : چې زما کلونه له هغه نه زیات دي او داسي ونه ویل چې زه تر هغه لوی یم، ځکه چې ځانته لوی ویل ورته مناسب نه ښکاریدل )) (الفت، ۱۳۹۳،ص۳۶). دا خبره البته څه علمي او فلسفي قیمت نه لري مګر د خپل ادبي قیمت په درلودلو په کتابونو کې ژوندۍ پاتي شوه اوبله کیسه :

په یوه ښه سړي چا څو اعتراضه وکړل او ورته یي وویل ، چې انګور خو پاک او حلال دي او د انګورو اوبه هم پاکي دي ، نو شراب ولي ناپاک ا ونجس دي ؟ بل دا چې سړی که څه په سترګو نه ویني ، نو څه پوهیږي چې هغه شته ( غرض یي له خدای پاک څخه انکارو) دریيم اعتراض یي دا و ، چې کارونه خو ټول تقدیر کوي او هرڅه چې چاته مقرر وي هغه رسیږی ، نو یو سړی ولي د چا په وژلو قصاص کیږي او ملامتیږي ؟ د ښه سړي په مخکې یوه خښته پرته وه هغه یې راوا خیسته او دی یې پرې وویشت سړی لاړ عرض یي وکړ او د هغه وخت حاکم هغه ښه سړی راوغوښت ، چې که تا د ده ځواب نه شو ویلای؛ نو په خښته دي ولې ویشته او ولې دې ژوبلاوه ؟ سړي ورته وویل ما خو نور څه نه دي کړي او د ده د درې واړو سوالونو ځواب مې ورکړی دی. دی وایي انګور اود انګورو اوبه پاکې دي ، نو شراب ولې مردار دی ، ما دی پوه کړ ، چې دغه خښته خو له خاورو او اوبو جوړه شوه که دي څوک په خاورو یا په اوبو وولي نه ژوبلیږي ، که خاورې او اوبه یو ځای کړي او خته شي نوپه خته هم څوک نه دي ژوبل شوي ، مګر چې لمر ته

یې کېږدي او وچه شي، نو بیا سړی ژوبلوي . بل دی وایي ، چې کارونه خو ټول تقدیر کوی نو یو سړی ولې په بل ملامتېږي ؟ دده ژوبلیدا خو هم د تقدیر کار و؛ دی ولي زما له لاسه عرض او شکایت کوي. دریم دا چې وایي څه چې سړی په سترګو نه ویني هغه نشته ، نو دغه درد چې دی ورځیني فریاد کوي دا خو هم څوك په سترګو نه ویني (الفت،۱۳۹۳،ص ۳۷).
په دې خبرو حاکم قانع شو او عارض هم نور څه ونه ویل ددغه سړي ځوابونه ادبي و، نه علمي او فلسفي،که یې علمي او فلسفي منطق کړی وای. دومره په اسانه یې حاکم اوعارض نه شوای قانع کولای.

**ادب د تمدن سرچینه د ه**

د پخوانیو یونانیانو یې راواخله تر اوسه پورې، چې د ځمکې په مخ کوم تمدنونه رامنځ ته شوي؛ رهبري یې هم دغه ادب کړې ده، ځکه ادب د هیواد د فکري بدلونونو په دورا ن کي سیاسي بڼه اخیستي ،چې ټولني ته آګاهي په ډېره اسانۍ سره ورکولای شي.
دهټلر خبره ده، چې زه د جنګ له خبرونو ویره نه لرم، خو زما د تخت پښې هغه وخت لړزیږي چې کوم ادیب د دربار خلاف قلم پورته کوي.
په عربو کې د اسلام د سترتمدن تیره هم د ادب په بنا ایښودل شوې ده ، ځکه په هغه زمانه کې شعر او ادب هغې لوړې نقطې ته رسیدلی و چې د شعر ځواب به لا په شعر ویل کېده ( الفت، ۱۳۹۰،ص ۳۸). ادب ولسونه ملتونه کارته هڅولي د اروپا د رنسانس دوره هم د دې خبرې پخلی کوي .
د پایلې په توګه ویلای شو، چې ادب د ژوند مالګه ده ؛ د الفت صاحب په وینا، په شعراو ادب کې یوازې بشر ولټوئ او روسي ادب پوه ادب د ژوند درسي کتاب بولي، د یو ملت ژبه، کلتوراو اخلاق د شعر او ادب په وسیله ساتل کیږي.

**پایله**

ادب او ادبیات د انساني ټولنو د ثقافت او فرهنګ د پرمختګ ضامن ګڼل کېږي، هره ټولنه ویښتابه ته اړتیا لري، ځکه د فرهنګ د تشریح وسیله ژبه ده او د ژبې پرمختګ د ادب او ادبیاتو له پالنې په غیر ممکن نه ده، فرهنګ د تشریح او معرفت بنسټ په ژبه ایښی دی؛ پرمختللي ټولنې د خپلې ژبې او ادب پرمختګ د ټولنیز ذهانت او لوړتیا سره تړي. ادب او ادبیات د ټولنې سترګې دي، هره ټولنه چې ادب او ادبیات ونه لري، ګواکي سترګې نه لري او څه نه ویني، ادبیات سره له دې چې ژبنۍ برخه یې علم، مګر ادبي اوهنري برخه یې هغه ښکلاییزفعالیت دی، چې انساني ارزښتونه او چاپېره نړۍ ترسیموي. ځکه د ادب موضوع انسان دی، په انساني ژوند پورې اړوند مفاهیم او پدېدې د هنریت په ګاڼه او زیور ښکلي کوي، د بلاغت عروج ته یې رسوي، نبي

علیه السلام ته هم د بلیغ کلام یادونه قران کریم کړې ده، موخه داده چې همدا ادب او ادبیات دي چې په شعوري ډول پیښې په تمثیل او انځوریزقالب کې اچوي او د ټولنې اخلاقي ارتقاء رامنځ ته کوي او د اصلاح لپاره یې لاره هواروي. ادب د انسان د ذهني نړۍ خیالات او احساساتو ته تجسم ورکوي. معقولې پیښې محسوساتو ته راولي، لکه رسام چې د یو انځور مادي رسامي کوي، همدغه ادبیات دي، چې انساني خیالات او عواطف را برسیره کوي د پایلې په توګه ویلای شو، چې ادب د ژوند مالګه ده ؛ د الفت صاحب په وینا، په شعراو ادب کې یوازې بشر ولټوئ او روسي پوه یې د ژوند درسي کتاب بولي، د یو ملت ژبه، کلتوراو اخلاق د شعر او ادب په وسیله ساتل کیږي.

## مناقشه

د ادب مهمه دنده داده، چې انساني ویښتابه رامنځ ته کړي او هرڅوک خپل مسولیت ته متوجه کړي، ځکه یوازې بشر مخاطب کوي، احساسات او عواطف یې را پاروي، ترڅو د ټولنې پدیدې انساني هضم ته برابرې کړي، د کرکې او تنفر پرځای یې تلوسه زیاته کړي، د تصوراتو اوخیالاتو په نړۍ کې انسان ته خپل مقام ښیې، د ټولو ټولنو د پرمختګ تر شا د هغه ملت د ادبیاتو ونډه بارزه ده، د اروپایي رونسانس سبب یوازې ادبیات و، چې اروپایان یې له مغارو راوایستل او د تخنیک اوج ته یې ورسول. د دې مقالې توپیر له نورو مقالو اولیکنو سره دادی، چې (ادب د ادب لپاره ) نظریه کاملا رد شوې ده او (ادب د ژوند لپاره ) نظریه باندې بېلګې ورکړل شوې دي، ځکه ادب ا وادبیات له ژوند سره تړلي دي، د انسان ټول داخلي احساسات، عواطف، خیالات او دروني هر اړخیزې قوې یوازې د ژبې او الفاظو په کارولو په موثره توګه ویښیږي. ژوند ادبي دی، که یوازې عقلاني شي، انسان په دروني او معنوي لحاظ تورل کیږي او حال دا چې هیڅ د کامل عقل خاوند ورڅخه پښیمانه کېدای نه شي، لکه څنګه چې انسان ظاهري حواس لري، باطني حواس هم لري، د دې حواسو پالنه هم له ژوند سره تړلې ده، همدغه نظریه یوازې او یوازې د ادب د ژوند لپاره نظریه باندې مخ پر وړاندې تللی شي.

## اخځلیکونه

۱ ــ الفت ، ګل پاچا، زیار (محمدزبیرشفیقي).(۱۳۹۰ل). هنري نثرونه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۲ ــ الفت ، ګل پاچا.( ۱۳۹۳ل).ادبي بحثونه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه .
۳ــ حبیبي، عبدالحی.(۱۳۸۴ل).د پښتو ادبیاتو تاریخ ، لومړی ټوک. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه
۴ ـــ ختېک، خوشحال خان.(۱۳۹۳ل). کلیات. پېښور: میهن خپروندویه ټولنه.

٥ ـ روهي، محمد صدیق.(١٣٨٦ل).ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
٦ ـ روهي، محمد صدیق.(١٣٨٠ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ ، دویم ټوک. پېښور:دانش خپرندویه ټولنه.
٧ ـ رفیق، محمد رفیق.(١٣٩٥ل). د ادبپوهنې بنسټونه.جلال اباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.
٨ ـ شینواری، دوست.(١٣٩٣ل). د ادب تیوری اساسونه.کابل: یار خپرندویه ټولنه.
٩ ـ شاه ولي.(١٣٩٠ل). د پښتو ادبي نثر ډولونه او بشپړتیایي پړاوونه. جلال اباد: سلام خپرندویه ټولنه.
١٠ ـ شېرزاد، پښتون اقا.(١٤٠١ل). د ادبپوهنې بنسټونه.کابل: نویسا خپرنځی.
١١ـ گورکي ، ماکسیم ، ژباړن ( محب الرحمن محب).(١٣٨٨ل). دادبیاتو موخه. جلال اباد:گودر خپرندویه ټولنه.
١٢ـ وزیري، محمد اقبال.(١٣٩١ل). د ادبیاتو تیوري.کابل : دانش خپروندویه ټولنه.
١٣ـ هاشمي ، سید محی الدین ( سرمحقیق ) ، د ابپوهني څانگې ، میهن خپرندویه ټولنه ، پیښور ، ١٣٩٣ لمریز کال .

# An Overview of the Nature and Value of Literature

Hamidullah Hamidi [*1]
Teaching Assistant, Department of Pashto Language and literature,
Education Faculty Helmand University
**Email**: hamidullahhamidi887@gmail.com

## Abstract

Literature is considered as the mirror of social life, because literature is the artistic inspiration (reflection) of the realities of social life, which is depicted through language, because literature gives an artistic drawing and reflection to an event consciously. Inside the human there are Emotions, compassion and sympathy, it is literature that stirs up human emotions and encourages them to act. In a general sense, literature is a special form of drawing and depicting social ideals, which grows and develops according to the conditions of the historical position, time and environment. means, literature is to express one's feelings and perceptions or the words of the heart through good words and to put them in the mind of the listener. Literature is defined as language in Pashto, while All sciences and arts are expressed through language.

Literature depicts different aspects of human life, such as: thoughts, ideas, happiness, concerns, perceptions, views, stories, myths, stories related to life, etc. The topic of the literature is human According to Ulfat Sahib, (seek only human in poetry and literature.) Because on the one hand, literature portrays reality; Objective from reality, which takes the material of the event from life, reality and truth; and it is related to the environment of human life. As the light of the sun appears to be white, it is actually seven colors; Literature also shows its side in the same way. If the salt of literature is combined in writing and speech, it affects everyone, everyone likes it, the literary price is higher than the scientific and philosophical price; As a result, it can be said that literature is the salt of life; According to Mr. Ulfat Speech: search for human only in poetry and literature, and Russian literary expert calls the literature as the textbook of life. The language, culture and ethics of a nation are preserved through poetry and literature.

**Keywords:** Growth of Small and Medium Enterprises ،Influencing Factors ،Helmand Province

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Acdemic Journal

**Volume:1 Issue: 1 Year:2024**